**AFGHAN GERMAN ONLINE**

http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

داکتر محمدآجان مرزی

۲۰۱۶/۰۵/۲۱

# تورې وربځې

آسمان ډک له تورو وربځو         ربباران د طوفان گورم
سترگې ډکې شوې له اوښکو         غمجن مخ د ارمان گورم

يو يتيم ورى په گېډه
په ژړا شولو له وېرې
د بادونو په لمن کې
لټوي افساني تېرې

آسمان ډک له تورو وربځو         رېباران د طوفان گورم
هره خوا بېره خپره شوه         لوى هيبت د انسان گورم

د غمجن زړگي عکسونه
د تېر عمر په څپو کې
بې له رنگه بې له خونده
په غمجنو ترانو کې

آسمان ډک له تورو وربځو         رېباران د طوفان گورم
مرغان لاړل بڼ خالي شو         بدمرغي د جهان گورم

د ژوندون کډه تړلې
کاروانونه بيا روان شول
د ژړا دردمند سازونه
بيا خپاره په هر مکان شول

آسمان ډک له تورو وربځو         رېباران د طوفان گورم
د ژوندون بيه شوه ټيټه         نه رحيم نه رحمان گورم

د انسان مرگ او وژنه
د جگړې په کجاوو کې
بدرگه د ظالمانو
د سرو وينو تماشو کې

آسمان ډک له تورو وربځو         رېباران د طوفان گورم
چمنونه به ويجاړ شي         سخت گوزار د دوران گورم

د بورا وزر به سوزي
د خزان په زېړي اور کې
نه به گل وي په سارا کې
نه آرام د چا په کور کې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ